درنو والدنيو/ سرپرستانو:

د ويرجينيا قانون ته په ځواب کې د Prince William د ښارګوټي د عامه ښوونځيو (PWCS) په زدهکړو کې له ماشومانو څخه تر لسم ټولګي پورې د کورني ژند د زدهکړو (FLE) يو بشپړ او پرلپسې پروګرام شامل دی. FLE پروګرام د دې لپاره جوړ شوی دی چې زده کوونکو ته پوهه او مهارتونه ور زده کړي چې د خپلې ودې او پرمختګ؛ ارتباطاتو او اړيکو؛ او عاطفي او ټولنيزې روغتيا په اړه شعوري او مسوولانه پرېکړې وکړي.

سره له دې چې د FLE پروګرام په لوړه کچه له موجود کريکولم يا نصاب او خدمتونو سره سمون لري تر څو د زده کوونکو تعليمي تجربې بډايه کړي، خو ښايي منځپانګه يې حساسه وګڼل شي. له همدې امله ښايي والدين/سرپرستان خپل زده کوونکي له ټول پروګرام او يا د FLE د زده کړو د پروګرام له يوې برخې څخه بهر کړي. هغه زده کوونکي چې له دې پروګرام څخه وتلي دي، هغوی ته د FLE د زده کړو په پروګرام کې نا تنبيهي فعاليتونه چمتو کېږي. وړاندې تر دې چې والدين/ سرپرستان خپل اولادونه له پروګرام څخه منصرف کړي، بايد د خپل ماشوم د ټولګي او کورس په اړه د FLE موخې وځاري.

**که تاسو داسې ګڼئ چې ماشوم مو بايد په دې تعليمي کال کې د FLE په پروګرام ونډه وانخلي، موخې په هغه فورمه کې ذکر کړئ چې له دې ليک سره ضميمه شوې ده او د FLE له زده کړې څخه وړاندې يې د ماشوم ښوونځي ته واستوئ.** مګر دا چې بله خبره وي؛ نو ستاسو ماشوم به په FLE کې شامل شي. که چېرته غواړئ چې ماشوم مو د FLE په زده کړه کې شامل شي، د فورم د بېرته را ستنولو ته اړتيا نه لرئ. هغه والدين/ سرپرستان چې ماشومان په PWCS کې ښوونځي ته لېږدوي، هغوی مسوول دي چې نوي ښوونځي ته د انصراف د پرېکړې په اړه خبر ورکړي. هغه نېټه د FLE زده کړې به پکې پيل شي، هغه به ښوونځي جلا وټاکي.

که چېرته والدين/ سرپرستان خپل ماشومان د زدهکړو له FLE رسمي پروګرام څخه وباسي، نو ښوونکي د زده کوونکو د هغو خپل جوشه پوښتنو مسوول نه ګڼل کېږي چې ښايي د هغو موضوعاتو په اړه وي، چې وړاندې پرې بحث وشو. همدارنګه ښوونکی د هغو حساسو موضوعاتو په تړاو مسوول نشو ګڼلای چې د زده کوونکو تر منځ له ټولګي څخه دباندې پېښېږي.
معلومه ده چې ځيني کورنۍ غوره ګڼي تر څو د FLE زده کړې په کور يا کليسا کې او يا د کورنۍ د ډاکتر له لوري ارائه شي. ډېره هڅه به وشي تر څو يقيني شي چې په دې موضوع کې زده کوونکي د کورنۍ پر انتخابونو پوهېږي او درناوی ورته لري تر څو د خپلو همزولو له فشار څخه وژغورل شي.

که چېرته تاسو د خپل ماشوم د ښوونځي د FLE د زده کړې د مهالوېش په اړه کومه پوښتنه لرئ، هيله ده د خپل ماشوم له ښوونکي او يا مدير سره اړيکه ټينګه کړئ. د FLE په اړه د نورو معلوماتو لپاره هيله ده د زده کوونکو د زده کړې، ساينس او FLE له ادارې سره په 703-791-7240 شمېره اړيکه ټينګه کړئ.

په درنښت،

Julia Renberg

Julia Renberg
د ساينس او کورني ژوند د زده کړې سوپروايزره

Julia Renberg
د ساينس او کورني ژوند د زدهکړو سوپروايزر

703.831.8755 ،703.791.7240 فکس • WWW.PWCS.EDU • 389, MANASSAS, VA 20108 پوست بکس

Prince William County
PUBLIC SCHOOLS
*Providing A World-Class Education*

## د Prince William ښارګوټي عامه ښوونځي
## د کورني ژوند زده کړه (FLE)
## د ګډون نه کولو فورم

که چېرته تاسو غواړئ چې خپل ماشوم د FLE د زده کړې ټولو او یا مشخصو اهدافو څخه بهر کړئ، په مهربانۍ سره دغه فورم بشپړ کړئ او د FLE له زده کړو څخه وړاندې یې د خپل ماشوم ښوونکي ته ورکړئ. د FLE د زده کړو لپاره مهالوېش د جلا ښوونځیو له لوري ټاکل کېږي.

**د مهربانۍ له مخې په یاد ولرئ: که چېرته تاسو نه غواړئ چې خپل ماشوم د FLE د ټولو او یا یوې برخې زده کړو څخه بهر کړئ، نو دا فورم بېرته <u>مه</u> راوړئ.**

د زده کوونکي نوم: ____________________

ښوونځی: ____________________

ټولګی/ کورس: ____________________

ښوونکی: ____________________

په مهربانۍ سره ستاسو د زده کوونکي د ټولګي/ کورس لپاره د FLE د کریکولم یا نصاب موخې وګورئ چې له دې لیک سره ضمیمه شوې دي. په تشو ځایونو کې د موخو د شمېرو په لیکلو سره هغه موخې په ډاګه کړئ چې غواړئ خپل ماشوم د اړوندو زده کړو له ټولګي څخه بهر کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ____________ | ____________ | ____________ |
| ____________ | ____________ | ____________ |
| ____________ | ____________ | ____________ |
| ____________ | ____________ | ____________ |

د والدینو/ سرپرست لاسلیک: ____________________

نېټه: ____________ د اړیکې لومړنۍ شمېره: ____________